مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت ٢٠٢۴/٠٧/٢٢

# تیر کال یو بل افغان عالم د هېواد ودانولو په ارمان لاړ

تیر کال په همدې نیټه د یو داسې انسان زړه ودرید او له دې نیمګړې ژوند سره یې مخه ښه وکړه، چې د خپلې بې ساري ورتیا پر مټ یې، غوښتل په هېواد کې د سترو خدمتونو جوګه شي او خپل ستر ارمان ته چې د خپل ولس هوسا ژوند او پر ځان بساینه ورسیږی.

زه اوس د ډاکټر سید شیر اقا حرکت په هکله، د هغه د کورنی نږدې غړې په توګه خبرې کوم، چې زما همداسې یو مهربانه مشر و، ترهر څه دمخه هغه زما ډیر ګران او مهربان اوخې هم و.

دا چې د هغوې پلار په ورکوالي کې له دې نړې سترګې پټې کړې وې، نو زموږ په کور کې همدا زما ګران اوخې د مشرۍ مقام درلود.

له بله اړخه د کور مشر څوک چې، ټولو کشرانو او مشرانو ته دومره مینه ورکړې، ورسره نږدې وی او پوره صمیمت ورسره ولرې، چې هر یو داسې وانګیرې، ګواکې همدا زه پرې ډیر ګران یم...

په ډیره خواخوږۍ د خپلې کورنی هر غړې ته په ورین تندې، د هرې ستونزې غوټه په پوره درایت پرانیزې او هر تن پرې داسې ډاډه وې، چې هډو د کومې اندیښنې سوچ ورسره نه وې.

د داسې یو مشر چې په خواکې ته پوره ډاډمن وې او لکه یو خوږ ملګرۍ د خپل زړه هر راز ورته ویلې شې.

کله چې لیدلو ته ورځې، د زړه په تل کې د خوښۍ احساس کوې او په لیدلو یې ستا زړه ته سکون او خوشالي راځي، هغه موضوع چې فکر یې درته خراب کړی، ورسره شریکوې او هغه درته د حل لار داسې په ګوته کوې، چې په بې ساري توګه ځان ډیر نیکمرغه احساسوې.

څکه نو د هغه په شتون کې ځان ډیر نیکمرغه ګڼې او همدا وجه ده، چې ته به د داسې عالم مشر په لرلو د ویاړ او د بې دریغه خوښۍ احساس کوې.

په دریغ او ډیرې خواشینۍ سره موږ همداسې یو ډیر مهربان او خوږ مشر له لاسه ورکړ. د هغه په وجود کې پاک رب دومره ښیګڼې رانغښتې وې، چې د ټولو یادول زما د عاجز قلم په توان کې نه دې.

دا چې هغه د الوتکو د انجن او بدن انجنیر په توګه یې په ماسترۍ او (پ اچ ډي) کې د سرور زرو مدالونه اخیستې او ارزښت من اثار یې خلق کړې، چې د کابل د هواې پوهنتون محصلینو ته ترینه تدریس کیده.

په څنګ کې یې په فلسفه کې ماسترې اخیستې او د ډاکترۍ بشپړول یې وروستې پړاو ته رسولې و.

داسې یو ستر عالم، چې د ژوند هر پړاو یې په څیړنه، تحقیق او د خپل هېواد له پاره په صادقانه خدمت کې تیر شوی، په ټول ژوند کې تل مدام صادق او سپیڅلې انسان پاتې شوی دی.

هر څوک چې یې پیژنې او له نږدې نه یې ورسره اړیکې ساتلې وې، د ډاکتر حرکت سپیڅلتیا او هېواد پالنه یې منلې او تل یې ورته درناوې کړی دی.

هر چیرې چې کار کړی، که د داود خان د جمهوریت پر مهال چې یو ځوان افسر و، د کابل هوای پوهنتون قومندان او که وروسته د کابل ښاروال، یا هم د قوایې هواې او مدافعې هواې د تفتیش ریس په توګه، په لوړو پوستنو کې کار کړی، خو په دومره صداقت او ایمانداری یې دنده ترسره کړې، چې هلته یې یو مثال پرابیښې دی او دغه ټولې دندې یې په پوره مسلکیتوب او ژمنتیا سره ترسره کړی دی.

هر قدم یې د خپل ولس د سوکالی او هوسا ژوند په ارمان پورته کړی دی.

حتا دا چې ده د خلق ګوند پورې تړاو درلود، خو د ده مخالفینو هم ویلې، ډاکتر یو عالم او رینتینې، صادق انسان دی او په دې څوک سترګې نه شي پټولی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کله چي په هېواد کي د روانو ناخوالو له کبله مهاجرت ته اړ شو، بیا هم یوه شیبه د خپل هېواد او ولس نه لري نه وو. هڅه او کوښښ یې دا و،چي په یو ډول خپلو خلکو ته خیر ورسوي.

پوره اته کاله یې په یوازي سر د حرکت اخبار د ځوان نسل د اذهانو روښانه کولو له پاره وچلوه. تر څنګ یې څو فلسفي اثار ولیکل او چاپ کړل، چي راتلونکي نسلونه به تري ګټه واخلي. هره ورځ د هغه له پاره یو انعام و چي ویل به یې:« دا د الله پاک له خوا یوه ډالی ده،خپل بنده ته چي د یو ښه او نیک کار له پاره ترینه ګټه پورته کړي«.
دي ستر انسان د اوږدي مودي ناروغی له کبله د ۲۰۲۳ زیږدیز کال د جولاي په دوه ویشتمه نیټه له دې فاني نړی سترګي پټي کړي او زموږ کورني چاپیریال کي یې، د خپل خوږ او مهربانه شخصیت په نه شتون سره، ستره تشه رامنځ ته کړه.
نه یوازي زما د خور خوږ او د میني ډک کور ورسره وران شو، بلکي زما د ژوند ملګری د خپل ډیر مهربانه ورور نه جلا او په ټوله کي، زموږ کورني ماحول یې له خپل مهربانه چلن، خپلو خوږو خبرو او په ځاي مهمو،عالمانه لارښوونو نه بې برخي کړ.
د هغه خداي بښلي جنازه یې له وصیت سره سم چي ویلي و، خپلي خاوري ته مي یوسئ، د هغه د ژوند ملګري، ورور او ټولو اولادونو په بدرګه کابل ته د جولایي میاشت په شپږویشتمه نیټه ولیږدول شوه او هلته د همدي میاشت په اوه ویشتمه د پنجشنبي په ورځ خاورو ته وسپارل شو.

## ارواح یې ښاده او یادونه یې تل پاتي نه هیریدونکي.



په جرمني کي د ډاکتر سیدشیرآقا حرکت د جنازي مراسم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ